دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوې دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لارښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالي ځرګند دلایل دي. نو څوک چې له تاسې څخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمیر دې له نورو ورځو څخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که رمضان را از روی ایمان و اخلاص روزه گیرد، گناه گذشته اش آمرزیده می شود.
(الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۱۴ مه ګڼه، پرله پسې ۲۵۸ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د چنګاښ ۱۰ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د رمضان المبارک ۳ مه د۲۰۱۴ م د جولای لومړۍ

ارسلایی:

فعالیت های کمیسیون های انتخابات از این پس غیرقانونی است

ما از همین لحظه به بعد درمقابل جواب رد کمیسیون انتخابات افغانستان به خواسته‌های ما، ما تمامی فیصله‌های کمیسیون انتخابات و کمیسیون شکایات را رد می کنیم و از همین لحظه به بعد هیچ فیصله انها برای ما قانونیت و مشروعیت ندارد. (ارسلایی)



تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی اعلام نمود که پس از این فعالیت کمیسیون های انتخاباتی از سوی این تیم غیر قانونی است و فیصله های آنها نیز غیر قابل پذیرش خواهد بود. بریالی ارسلایی رییس ستاد مرکزی این تیم میگوید که این تصمیم تیم اصلاحات و همگرایی پس از رد خواسته های این تیم از سوی کمیسیون انتخابات گرفته شده است.

تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی پس از میانجیگیری سازمان ملل متحد برای از سرگیری روابط اش با کمیسیونهای انتخاباتی، خواستهای خود را در قالب یک نامه سیزده ماده ای به کمیسیون انتخابات فرستاد، اما اکنون این تیم میگوید که کمیسیون انتخابات در پاسخ به این نامه آنان، تمامی خواست های تیم اصلاحات و همگرایی را رد کرده و به آنها جواب منفی داده است.

بریالی ارسلایی رییس ستاد مرکزی تیم اصلاحات و همگرایی روز یک شنبه در یک کنفرانس خبری گفت: به منظور رسیدگی به همان موارد نامه ما به آنها فرستاده شد که جواب کمیسیون چند روز را در بر گرفت. دیشب ما نامه ای را از جانب کمیسیون انتخابات دریافت نمودیم که در آن ...

(ص، ۴)

محمود کرزی:

رییس جمهور حامد کرزی خواهان ماندن درقدرت است

خبر گزاری رویترز:
محمو کرزی برادر حامد کرزی رییس جمهور افغانستان ادعا دارد که رییس جمهور کرزی انتخابات این کشور را قسمی مدیریت می کند که تضمین کننده بقا اش در قدرت باشد.
محمود کرزی درمصاحبه با خبر گزاری رویترز گفته است که حامد کرزی میخواهد کسی به قدرت برسد که از فرمان اش اطاعت کرده و وابسته به خودش باشد.
محمود کرزی میگوید، حامد کرزی رییس جمهورافغانستان به گونهٔ قصدی بازیگران نیرومند سیاسی را از انتخابات کشید تا هیچ یک از آنان پیروز قطعی انتخابات نباشند.
خبر گزاری رویترز نوشته است: "این کار ...

(ص، ۴)

الما‌ن د افغانستان د ولسمشرۍ پر جنجال منځګړتوب کوي

فرانک والتر شټاین مایر د المان د بهرنیو چارو وزیر

کابل، رسنۍ:
المان د افغانستان د دوهم پړاو ټاکنو په ترڅ کې د راپیدا شوې سیاسي کړکیچ د حل له پاره منځګړتوب کوي. ویل کیږي چې د دغه هیواد استازی به د افغانستان ولسمشرۍ ته له کاندیدانو اشرف غني احمدزي او ډاکټر عبدالله عبدالله سره ووینې.
د المان د بهرنیو چارو وزارت یوه ویاند د یکشنبې په ورځ (۲۰۱۴م کال د جون ۲۹) ویلي دي چې د بهرنیو چارو وزیر فرانک والتر شټاین مایر د افغانستان له پاره د المان ځانګړی استازی کابل ته لیږلی دی.
دغه ویاند زیاته کړې ده چې د افغانستان له پاره د آلمان ...

(۴ مخ)

«داعش» خپل مشر د ټولو مسلمانانو خلیفه بللی

بي بي سي:
په عراق او سوریه کې اسلامي دولت «داعش» ډلې خپل مشر ابوبکر البغدادي د نړۍ د ټولو مسلمانانو مشر "خلیفه" بللی دی.
یوه ویډیو چې پر انټرنیټ خوره شوې د داعش ویاند ابو محمد عدناني اعلان کړی دی چې د دغې ډلې شورا غوښته کړې او د «اسلامي خلافت» او د مسلمانانو لپاره د خلیفه ټاکلو پریکړه یې کړې ده.
ده په ویډیو کې د داعش له لوري د خلیفه په توګه د البغدادي یادونه کړې او پخپله ابوبکر بغدادي هم دا انتخاب «قبول» کړی او خپل ځان یې د نړۍ د مسلمانانو مشر بللی دی.
د داعش له لوري په خپره شوې ویډیو کې ...

(۴ مخ)

تظاهرات مدنی و خاموشی معنادار ارگ

احسان الله بلال

((از اجراآت و سیاستهای آقای کرزی چنان مینماید که او حاضر نیست از روند سیاست افغانستان خارج شود، بناءً باید در افغانستان کسی به قدرت برسد که در آینده همه کارهٔ سیاست در عقب پرده شخص او باشد و در روی پرده بازیگران دیگری بازی کنند. او در ظاهر، پردهٔ جهاد بر روی افگنده؛ ولی وظیفه دارد تا نگذارد مجاهدین بصورت مستقلانه در افغانستان به قدرت برسند چون حامیان بیرونی او چنین چیزی را نمیخواهند. از همین جهت است که همراه با شکست روسها در افغانستان، چنین سناریویی از سوی یک عده کشورها روی دست گرفته شد و مجاهدین هم ناخودآگاه در دام آنها گیر ماندند.))

(ص، ۲)

ولسي جرګې د دوو قوانینو طرحې تصویب کړې

ولسي جرګې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون طرح له یو لړ بدلونونو سره او د ټولنیز ملاتړ قانون طرحه پرته له بدلونه تصویب کړه

کابل، بڑواک:
عدلیې وزارت اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون طرح په شپږو فصلونو او ۳۲ مادو کې د روان کال د ورې میاشتې په لومړیو کې د تصویب په موخه ولسي جرګې ته استولې وه.
دغه طرح د دوشنبې په ورځ د ولسي جرګې دیني او فرهنګي کمېسیون د جرګې عمومي غونډې ته د تصویب په موخه وړاندې کړه.
د یاد کمېسیون مشر کمال ناصر اصولي وویل، چې پر یادې طرحې خو ځلې د جرګې ۱۸ کمېسیونونو...

(۴ مخ)

هلمند کې د مرګ ژوبلې لوی لامل ماینونه دي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان دفاع وزارت وايي، د هلمند ځګړه کې د دوی خواکونو ته د اوښتي مرګ ژوبلې ستره برخه د هغو ماینونو له کبله وه، چې د دوی مخالفینو سیمه کې ځای پر ځای کړي وو.
د ولسي وګړو تر څنګ د ماینونو ګڼ قربانیان امنیتي ځواکونه هم دي.
د دفاع وزارت چارواکي وايي د دغه خطر مخنیوي لپاره هلې ځلې کوي، خو وايي لا هم به بشپړه توګه تجهیزات په واک کې نه لري، چې د دغه خطر مخنیوی وکړي.
زموږ همکار نورمحمد سعید په خپل ریوټ کې په دې اړه...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

کودتای رسوا شدهٔ ((تقلب)) علیه ((ارادهٔ سیاسی ملت))

در حقیقت انتخابات شانزدهم حمل برای ریاست جمهوری، تعیین کننده بود. در دورانی که برای کمپاین انتخاباتی از سوی کمیسیون انتخابات اعلان شده بود، تمام کاندیداها برای معرفی برنامه های خود به ولایات مختلف کشور سفر نمودند و جلساتی دایر نمودند. هکذا مناظره هایی بین کاندیداها از طریق تلویزیونهای افغانستان صورت گرفت و ملت هم درین زمان تصمیم خود را گرفت و هر کس کاندیدای مورد نظر خود را برگزید. روز انتخابات فرا رسید و هر کس به کاندیدای مورد انتخابش رأی داد. در نتیجهٔ شمارش آرا تیم اصلاحات و همگرایی نه تنها که از سایر کاندیداها سبقت جست؛ بلکه آرای لازم برای پیروزی درین انتخابات را از آن خود کرد. زمانی که ارگ و حامیان پس پردهٔ ارگ دیدند که کاندیدای مورد نظر شان خیلی عقب مانده است بناءً به اتهام بستن ها و قرنطین ها که حربهٔ خوبی برای کمپ دولت است متوسل شدند و به کم کردن آرای تیم اصلاحات و همگرایی پرداختند، تا آنکه سدی در برابر پیروزی این تیم در دور اول ایجاد کردند و انتخابات را به دور دوم بردند. این کدام امر اتفاقی نه؛ بلکه یک امر مهندسی شده بود و قصد داشتند جریان انتخابات را به همان سو که دولت و حامیانش میخواهند ببرند. در رأس این مهندسی شخص رئیس جمهور برخی وزرای معلوم الحال و هواخواهان دیگر ارگ قرار داشتند.

کمیسیونهای انتخابات و شکایات که همواره سلاح برنده در دست دولت است در اجرای مهندسیی که از سوی ارگ طراحی شده بود نقش اساسی را بازی کردند. ضیاء الحق امرخیل رئیس دارالانشای کمیسیون انتخابات درین راستا رول مرکزی را بازی کرد؛ ولی افشای اسناد او از سوی ستاد انتخابات تیم اصلاحات و همگرایی دیگر مجالی برای او باقی نماند و از سویی کمپ دولت هم بخاطری که دستان آلودهٔ خود را توسط کنار زدن او پاک کرده باشد، از او خواست از پستش استعفا بدهد؛ زیرا اگر بنابه خواست تیم اصلاحات و همگرایی او را عزل میکند از یک سو صحه گذاشتن به ادعای تیم اصلاحات و همگرایی خواهد بود و از سوی دیگر شخصیت امرخیل خیلی جریحه دار خواهد شد؛ ولی بهرحال امرخیل بیچاره قربانی مهندسیهای ارگ شد. گرچه شاید به او وعده های چرب و شیرین به آینده داده باشند؛ ولی همهٔ ملت دید که او آگاهانه یا ناآگاهانه دست به اجرای فرمایشات ارگ زد و بالاخره قربانی اشتباهات خود شد و ملت هم با وجود تزکیه ها از سوی خود او و کمیسیون انتخابات که دم از استقلالیت میزند؛ ولی هرگز نتوانست به استقلالیت عمل کند، شخصیت او لکه دار شد که جا دارد برایش تسلیت گفته شود.

تیم مقابل که در سایهٔ مهندسیهای ارگ حرکت میکند چون جوابی در برابر اسناد افشا شده نداشت نمایندگان آنها در رسانه ها این حرف را محکم گرفتند که این کار گویا استراق سمع و خلاف قانون است؛ ولی متوجه نبودند که خود بر جرم خود که همانا تقلب گسترده و مهندسی شده بود اعتراف میکردند. اینکه ارگ نتایج انتخابات را بکدام سو میبرد که سمت و سویش پوشیده هم نیست و بزودی معلوم خواهد شد؛ ولی ملت دانست که آقای کرزی در آخرین روزهای اقتدارش هم خواست برای دوام اقتدارش کودتای تقلب را بر علیه ارادهٔ سیاسی ملت براه اندازد که در نیمه راه افشا شد. برای کرزی بسنده بود که چهارده سال را با آنکه نتوانست درست مدیریت کند در ارگ سپری کند و اینک یک افغانستان آلوده به فساد گوناگون را به میراث میگذارد از ته دل می پذیرفت که همین چهارده سال اقتدار برایش کافی است و باید انتخابات شفاف و عادلانه را براه اندازد و نهادینه کند و جایش را به دولتی رها کند که از یک مشروعیت کامل ملی و قانونی برخوردار باشد. تا هم ملت افغانستان از ته دل با آن همکار باشد و هم به نزد جامعهٔ بین المللی اعتبار و مشروعیت خود را داشته باشد و یک بحران سیاسی که بحرانهای دیگری را هم حتماً در کنار دارد کشور را تهدید نکند. آنانی که یا از جریانات بخوبی آگاهی ندارند و یا تعصبات گوناگون بر چشمان شان پرده انداخته و یا اهداف مشخص سیاسی دارند شاید فکر کنند و مطمئن باشند که تیم تحول و تداوم در انتخابات دست بالا دارد؛ ولی حقیقت آن است که تیم اصلاحات و همگرایی هم در دور اول برنده بود و ۵۸ درصد آرا را از آن خود کرده بود و هم در دور دوم برنده است؛ ولی کمپ ارگ نگذاشت و نخواست بنابر هر هدف و محاسبه یی که داشت که پیروزی تیم اصلاحات و همگرایی اعلان شود؛ ولی ارگ باید بداند که سناریوی پس پرده اش خیلی زود افشا شد و پوکانهء رازهای پنهانی اش ترکید، همه میدانند که این رئیس جمهور، تیم ارگ و حامیان پس پرده آنها بودند که برای ناکام کردن علنی تیم اصلاحات و همگرایی مهندسی کردند و این انتخابات هرگز و هرگز نه عادلانه بود و نه شفاف؛ بلکه مملو از تقلب و علناً پاگذاشتن بر گلوی ارادهٔ ملت.

احسان الله بلال

تظاهرات مدنی و خاموشی معنادار ارگ

انتخابات ریاست جمهوری در دو مرحله اجرا شد. تیم اصلاحات و همگرایی در شانزدهم حمل پنجاه و هشت در صد آرا را از آن خود کرد. این پیروزی خواب از چشمان آنانی که از قبل نمیخواستند این تیم به پیروزی برسد ربود. بناءً در پی آن شدند که باید به بهانه های گوناگون ازین آرا بکاهند. این نقشه را عملی کردند و بالاخره آرای این تیم را به چهل و پنج در صد تقلیل دادند. در حقیقت این یک هشدار بود برای تیم مذکور که کاخ نشینان ارگ نمیخواهند تیم مخالف ذوق و مصالح سیاسی ارگ به پیروزی برسد. بمصداق: «دل ناخواسته عذر بسیار» در مقابل پیروزی تیم اصلاحات و همگرایی موانع زیادی ایجاد کردند. در دور دوم علاوه برآنکه برای تقلب گسترده مهندسی کردند، صندوقها را از مناطق ناامن پر کردند، پنجهزار کارمند کمیسیون انتخابات را به نفع یک تیم تعویض و چهار هزار مرکز جدید خیالی رأیدهی را ایجاد کردند و چنان صحنه را بوجود آوردند که گویا اصلاً انتخابات در مناطق ناامن صورت گرفت تا مناطق امن. در پهلوی آن گروههای معین انتخابات را بسوی قومیت بردند و از احساسات قومی بسود یک تیم مشخص (تحول و تداوم) استفاده کرده راه را برای پیروزی تیم مورد نظر ارگ مهیا ساختند. در خیلی جاها جلو افرادی را که به تیم اصلاحات و همگرایی رأی میدادند گرفتند از جمله در ولایت لغمان. در بسیاری جاها دستگاه دولت به افرادی که بیچاره ها از نعمت سواد محروم بودند رهنمایی میکردند که به قرآن کریم (نشان انتخاباتی تیم تحول و تداوم) رأی بدهند، در بسیاری جاها به آنانی که به تیم تحول و تداوم رأی میدادند چندین برگهٔ رأی دهی میدادند. خوب این مواردی است که اکنون اثبات و ثبوت آن هم کار ساده یی نیست؛ ولی تقلبی است که صورت گرفت. آنانی که تقلب را مهندسی کردند اکنون اسناد نشر کرده از سوی تیم اصلاحات و همگرایی را هم نادرست خوانده. میگویند از صدها هان کرده یک نی بهتر است، این شهامت را ندارند که به یک عمل دزدانه خود اعتراف کنند. خلاصه تلاش این بود که چون از راه مشروع ممکن نشد، باید از یک راه غیر مشروع برای یک حکومت دلخواه خود زمینه را مهیا کنند.

ارگ با کمال خونسردی این همه سناریو را نظاره میکند و عکس العمل جناب رئیس جمهور این است که انتخابات این مسایل را با خود دارد و تظاهرات مدنی در برابر دروازه ارگ را پختگی دموکراسی توصیف میکند. معنای این گپ آن است که ارگ حاضر نیست به شکایات مدنی وقعی بگذارد. چنانچه به شکایات در زمان انتخابات ولسی جرگه وقعی نگذاشت. ارگ فکر میکند از یکسو گرمی است و از سوی دیگر ماه مبارک رمضان فرا رسید. بناءً شاید این تظاهرات هم زیاد دوام نکنند. پس بگذار که مظاهره کنند. از تقلبات در انتخابات بگویند و هشدار بدهند و ... چون کلید قفلی که بر در این بازی براه انداخته شده زده شده است در دست آقای کرزی است. هرگاه خواست آنرا باز میکند و تیم مورد نظر خود را داخل ارگ میکند.

می پذیریم که شاید ارگ بکمک حامیان بیرونی خود این کار را کرده بتواند؛ ولی نتیجه آن خواهد شد که حکومت غیرمشروع بمیان آید. حکومتی که یخنش در ده ها دست افتیده باشد یعنی یک حکومت ضعیف. اصلاً هم خارجیها چه دور و چه نزدیک نمیخواهند در افغانستان یک حکومت نیرومند بمیان آید چون جوابگوی مشکلات موجود جامعهٔ افغانی یک حکومت نیرومند است. ما در چهارده سال گذشته حکومت ضعیف و سراپا آلوده به فساد حامد کرزی را تجربه کردیم. او نتوانست روزی از ارگ بیرون برود و ببیند در کشور چه میگذرد. رفتن از ارگ تا میدان هوایی در هلیکوپتر، رفتن از ارگ تا یک نقطهٔ نزدیک دیگر به ارگ در شهر کابل توسط هلیکوپتر. این نشانهٔ آن است که آقای رئیس جمهور همهٔ افراد ملت را بخود خطر تلقی میکند و او فقط بخاطر حفظ جان و حفظ اقتدارش می اندیشد. او به حکومتی هم نیاز دارد تا دوسیه های اجراآت چهارده سالهٔ او را باز نکند. حکومتی که دوسیهٔ عینومینهٔ کندهار را باز نکند، حکومتی که دوسیهٔ شهرک امان الله خان در جلال آباد را باز نکند که چگونه یک جریب زمین دولتی را بقیمت سی هزار افغانی بالای شخصی میفروشد و آن هم بحکم قاطع ارگ. بدون آنکه در آن مزایده صورت گیرد و ده ها و صدها مورد دیگر.

آقای کرزی کدام افغانستان را از خود به میراث میگذارد؟

افغانستان سراپا غرق در فساد اداری

افغانستان سراپا غرق در کشت، تولید و ترافیک قاچاق مواد مخدر

افغانستان سراپا غرق در بیعدالتی

افغانستان سراپا غرق در غصب زمینهای دولتی و شخصی

افغانستان سراپا غرق در فساد اخلاقی

افغانستان مورد تهدید از سوی همسایه‌ها.

نظامی را که او به جامعهٔ افغان متعارف ساخت نیازی جدی به اصلاح دارد که این کار هم در صورتی که ارادهٔ سیاسی هم موجود باشد. زمان زیاد دولت آیندهٔ افغانستان را خواهد گرفت.

علاوه برآن حامد کرزی نتوانست از تمامیت ارضی افغانستان حفاظت کند، کشورهای همسایه آشکارا قسمتهای از خاک ما را قیچی کردند. او یک روز لب به انتقاد گشود و روز دیگر از غاصبان سرزمین ما عذر خواست. یعنی حق هم از افغانها مورد تجاوز قرار گرفت و عذر هم باید دولت افغانستان بکند. این همه مسایل بدون شک ثبت اوراق تاریخ میشود و بر کارنامه های سیاه آقای کرزی افزوده خواهد شد.

از اجراآت و سیاستهای آقای کرزی چنان مینماید که او حاضر نیست از روند سیاست افغانستان خارج شود. بناءً باید در افغانستان کسی به قدرت برسد که در آینده همه کارهٔ سیاست در عقب پرده شخص او باشد و در روی پرده بازیگران دیگری بازی کنند. او در ظاهر، پردهٔ جهاد بر روی افگنده؛ ولی وظیفه دارد تا نگذارد مجاهدین بصورت مستقلانه در افغانستان به قدرت برسند چون حامیان بیرونی او چنین چیزی را نمیخواهند. از همین جهت است که همراه با شکست روسها در افغانستان، چنین سناریویی از سوی یک عده کشورها روی دست گرفته شد و مجاهدین هم ناخودآگاه در دام آنها گیر ماندند.

کرزی اعلام داشت که بروز پنجم عید قدرت را به رئیس جمهور جدید میسپارد که طبعاً رئیس جمهور محصول یک تقلب گسترده به مدیریت ارگ و مورد تأیید او خواهد بود چون کرزی برآورده شدن آرزوهای بعدی او را در وجود چنین یک رئیس جمهور میبیند چنانچه آقای محمود کرزی برادر رئیس جمهور کرزی در مصاحبه یی با خبرگزاری رویترز پرده از روی تمام سناریوی طراحی شده از سوی حامد کرزی برداشته است و این حقیقتی است آنانی که با دید باز جریانات سیاسی افغانستان را تعقیب میکنند و از اهداف کرزی باخبر اند به همین عقیده اند که کرزی بعد از چهارده سال ریاست جمهوری هم حاضر نیست از قدرت کنار برود و این حقیقت را آینده ها خوبتر روشن خواهد ساخت. کرزی بنام رئیس جمهور خود را پادشاه افغانستان خواب میبیند که باید تا روز مرگ در اقتدار باقی بماند؛ ولی فکر میکنم محاسبهٔ او درست نباشد. او باید بداند هر گامی که او برداشت قابل درک است بخصوص مهندسیی را که به ارتباط انتخابات اخیر ریاست جمهوری از خود بنمایش گذاشت به حرف شاعر:

همه کارم ز خود کامی به بدنامی کشید آخر
نهان کی ماند آن رازی کازو سازند محفلها

ولس قانوني ولسمشر غواړي، نه تقلبي

عبیدالله صافي

که موږ لږ غونډې هم د ټاکنو د دوه خپلواکو کمیسیونونو په تشکیل او جوړښت غور وکړو؛ نو یوازې او یوازې همدا نتیجه ترلاسه کوو چې ددغو کمیسیونونو د تشکیل بنسټیز مقصد د اولس د آراو صحیح استعمال او څارنه ده او دا ددوی اساسي مسؤولیت دی چې خپله دنده په بشپړ امانت، صداقت او دیانت ترسره کړي. گرانو هېوادوالو ولیدل چې د لومړي پړاو د ټاکنو په څېر په دویم پړاو ټاکنو کې هم په پراخه کچه درغلی وشوې، نه یوازې دا چې په دغو درغلیو کې د یو مشخص ټیم کمپاینرانو لاس درلود؛ بلکې ورسره د ټاکنو کمیسیونونو هم لوی ونډه درلوده. هغو کسانو چې د اولس له آراو سره لوبې او له وړاندې نه مهندسي شوي درغلی کړي دي هغوی وایي چې هر څه صحیح دي او د رأیو بهیر په سم ډول پرمخ تللی دی، هغوی دا خبرې څکه کوي چې غلا یې کړی او نه غواړي چې د اولس له رأیو سره کړی خیانت یې ښکاره شي؛ خو د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د خپل قانوني حق له مخې ددغو درغلیو د رسوا کولو په مقصد خپل غږ اوچت کړی او دا ژمنه لري تیلفوني خبرې اترې هم ملي او بین المللي رسنیو په وړاندې په ژوندۍ بڼه وړاندې کړې چې ضیاء الحق امرخیل د تحول او تداوم ټیم په گټه له ځینو قوماندانانو او نورو ذیدخلو اشخاصو سره کړې وې. همداراز د میدان وردگو د والي عبدالمجید هغه تیلفوني مکالمې هم رسنیو ته وړاندې کړې چې د پوځ یو قوماندان په تیلفوني خبرو کې دیته اړ باسي چې د پښتنو په گټه کار وکړي. د پکتیکا والي له صمیم سره هم د امرخیل تیلفوني مکالمې په همدې حقیقت ښه گواهي کوي چې هلته په پراخه کچه د درغلیو لپاره لاره هواره شوې وه.

پکار خو دا و چې د ټاکنو دواړو کمیسیونونو مشرانو ددې پرځای چې ددغو اسنادو د څېړلو ژمنه کړې وای او ولس ته باور ورکړای وای چې دغه اسناد به ضرور څېړي او مجرمانو ته به سزا ورکوي، برعکس دهغوی پر دفاع یې لاس پورې کړی او د بې گناهي لپاره یې د ماتو گوډ دلایلو د وړاندې کولو هڅې کوې. د ټاکنو خپلواک کمیسیون رئیس یوسف نورستاني ددې پرځای چې امرخیل قضایي ارگانونو ته معرفي کړي

چې ددغه ستر ملي خیانت په بربنډولو کې به د ژوند تر اخرنیو سلگیو پورې له خپل ایماني او ملي رسالت څخه نه تر شا کېږي. هغه اشخاص چې په دغه ستر ملي خیانت کې ککړ دي هغوی صرف همدا خبره کوي چې موږ خیانت نه دی کړی؛ مگر هغه څوک چې د درغلی ادعا کوي هغوی له لومړۍ ورځې نه شرعي، عقلي او منطقي اسناد وړاندې کوي. د مثال په توگه هغوی په ډېر جرئت سره وایي چې په کومو ولسوالیو کې نفوس کم او رأی له اصل نفوس نه څو برابره زیات اچول شویدی هغه له کوم ځای راغلي؟ هغه ولایت چې ټول دونیم لکه کارتونه نه لري هلته څلور پنځه لکه رأی له کوم ځایه شوي؟ دا هغه پوښتنې دي چې عقل هم مني او منطق هم. هغوی د خپلې دغې ادعا د ثبوت لپاره وړاندیز کوي چې د کره او کوټه رأیو د تثبیت لپاره دی په پنځو ولایتونو کې له سره ټاکنې ترسره شي چې په دې توگه دا معلومه شي چې په شیدو کې څومره اوبه اچول شوي دي؟

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم چې د ټاکنو پر کمیسیونونو کومې نیوکې لري هغه هسې بې بنسټه او هوایي خبرې نه دي؛ بلکې د کره اسنادو له مخې خپله ادعا وړاندې کوي. هغوی د خپلې ادعا د ثبوت لپاره نه یوازې دا چې مستند فلمونه او اسناد وړاندې کړي؛ بلکې هغه غږیز دهغه د بې گناهی لپاره یې ناموجه دلایل وړاندې کړل چې یو پکې ددغه غږیز تیلفوني مکالمو د ترلاسه کولو غیرقانوني اړخ په اړه ده چې وایي: د اساسي قانون د ۳۷ مې مادې پراساس دچا خبرې ټیپ کول ممنوع کار دی. په داسې حال کې چې د اولس له آراو سره لوبې او پخپله دنده کې خیانت کول ستر جرم دی او د اساسي قانون په هیڅ ماده کې دومره ملي خیانت ته جواز نه دی ورکول شوی. د تعجب خبره داده چې دهغوی دغه لوی جرم ورته د مچ وزرې هومره هم نه ښکاري؛ مگر دهغه د دومره ستر خیانت د لوڅولو لپاره د تیلفوني مکالمو وړاندې کول غیرقانوني کړنه بولي. د ټاکنو کمیسیون له لوری له داسې منطق نه د یو بام دو هوا تصویر وړاندې کېږي. دهغوی له دې دریځ نه یوازې همدا واقعیت ترلاسه کېږي چې هغوی ته د ټاکنو د کمیسیون د دارالانشاء د رئیس او نورو لوړ پوړو چارواکو له لوری مهندسي شوي درغلی څه گناه نه ښکاري؛ خو چې دهغوی ددغه سترو جرمونو د رسوا کولو لپاره کوم تیلفوني مکالمې وړاندې کېږي هغه ورته ستر جرم ښکاره کېږي؛ مگر دېته نه گوري چې د نړۍ په هر قانون کې د ځینو ناگزیرو وجوهاتو له کبله استثناآتو ته ځای ورکول شوی. د بېلگې په توگه د چا د عیبونو پوسې کیدل گناه ده؛ مگر د یو داسې ډاکو، غل، خائن، او د هېواد دښمن پسې لټه کول چې د هېواد سلامتیا او یا هم د اولس سر او مال ته تاوان رسوي د گناه پرځای ثواب لري، او عدلي او قضایي ارگانونه دهغه دغه کار له عدالت سره سم بولي. د اولس رأیې او ټاکنې پخپل ځای له ملي امانتونو څخه گڼل کېږي، هغه څوک چې په دې درووند امانت کې خیانت کوي او ددغې ملي پروسې بنسټ ته تاوان رسوي هغه ملي خائن دی. دهغه ددغه ملي خیانت د رسوا کولو لپاره له هرې مستندې وسیلې نه کار اخیستل، نه یوازې دا چې مشروع دی؛ بلکې غوره کار هم دی. د همدغو تیلفوني مکالماتو مؤثریت و چې امرخیل په تیښتو سترگو استعفا ورکولو ته اړ شو، که چیرته په رښتیا سره درغلی نه وي شوي او د ټاکنو د کمیسیون لوړ پوړي چارواکی په دغې گناه کې شریک نه وي؛ نو بیا د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم د مستندو اسنادو د څېړلو پرځای ولې له ناموجهو آنو بانو څخه کار اخلي؟ د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم دغه غوښتنې چې په پنځو ولایتونو کې دی له نوی سره ټاکنې ترسره شي او یا هم چیرته چې په شرایطو برابر د رأی ورکوونکو له شمیر څخه زیاتې رأیې اچول شوي هغه دی لغوه اعلان شي؛ ولې له پامه غورځوي؟ ځواب یې څرگند دی، که چیرته په دغو ولایتونو کې ټاکنې ترسره شي؛ نو هغه څېرې او حلقې به رسوا کېږي چې په لوی لاس یې خیانت کړی دی او راتلونکی لپاره به د ملت په وړاندې د سترگو لکولو ځای نه لري؛ خو اولس په هیڅصورت کې چاته له خپلو رأیو سره د لوبو کولو اجازه نه ورکوي په هر حالت کې به د خپلو رأیو ساتنه کوي او تر هغه به خپلو قانوني او مدني هلو ځلو ته دوام ورکوي تر څو پورې چې جعلي رأی له ناپاکو رأیو څخه جلا شوي نه وي او دا کار څکه کوي چې راتلونکی لپاره د هېواد او اولس دښمنان او ملي خائنین د داسې ستر خیانت د ترسره کولو جرئت ونکړي. د هېواد د زعیم د ټاکلو حق په مطلق ډول د اولس حق دی او هر نوماند چې د شفافو ټاکنو له لارې د اولس زیاتې رأی وگټي هغه به د هېواد قانوني اولسمشر وي؛ خو که د اوسنیو درغلیو مخه له همدې اوسه ونه نیول شي او د ټاکنو بنسټ غښتلی او سالم ونه ساتل شي بیا به د اولس واکی پرځای زورواکی حاکم وي او افغانان به د یو مشروع او قانوني ولسمشر د اطاعت پرځای د جعلي او تقلبي ولسمشر رحم او کرم ته پاتې وي چې دا کار په سلو کې سل د افغانستان سلامتیا او راتلونکې په خطر کې اچوي او یو ځل بیا یې له لویو بحرانونو سره مخامخ کوي؛ نو څکه د افغانستان ټول باتور اولس ته پکار دي چې د خپل جائز حق د ترلاسه کولو په مقصد د اصلاحاتو او همپالنې له ټیم سره اوږه په اوږه ودرېږي او د خپل قانوني او مدني حقوقو له لارې خپل روا حق ترلاسه کړي تر څو سبا لپاره یو ځل بیا د خیانت له داسې ناوړین سره مخامخ نشي چې نن ورسره لاس او گریوان دي او د خپل زعیم په ټاکلو کې دهغوی د رأیو اهمیت له نظره ونه غورځول شي.

روژه یا د تقوا د ترلاسه کولو لویه سرچینه

نصرالله

لوی الله جل جلاله د روژې په هکله د ((لعلکم تتقون)) په فرمایلو سره ددې خبرې څرگندونه کړې چې د روژې بنسټیز مقصد او موخه په روژه دارانو کې د تقوا او پرهیزگارۍ غښتلې ماده پیدا کول دي، د الله جل جلاله ټول کارونه په حکمت ولاړ دي او یو کار یې هم له حکمت او گټې خالي نه دی، په ټول کائناتو کې انسان یواځنی مخلوق دی چې په هر څه کې شرافت او عزت یې ورته په برخه کړی دی. ان تر دې چې انسان ته د هغه سپیڅلی مخلوق پرښتو څخه هم زیات کرامت یې ورته ورکړی دی. الله جل جلاله یواځې د انسان په اړه فرمایلي دي چې ما هغه په ښکلي شکل کې پیدا کړی دی. ((ولقد کرمنا بني آدم)) الفاظ هم د انسان په عزت او کرامت گواهي ورکوي. ((خلق لکم ما في السموات و ما في الارض)) الفاظ هم په دې خبره څرگند دلالت کوي چې الله تعالی د آسمان او ځمکې ټول نعمتونه انسان لپاره پیدا کړي دي. یوازې انسان ته یې ځمکه، آسمان او دریابونه مسخر کړي دي او دا هر څه یې د انسان د گټې لپاره خلق کړي دي. یوازې انسان دی چې پر ټول کائناتو پاچاهي کوي او گټه ترینه اخلي، لوی الله انسان ته وایي چې زما نعمتونه دومره ډېر دي چې که وشمارئ؛ نو شمېرلای نشئ او دا هم ورته فرمایي چې؛ تاسې به زما د کومو کومو نعمتونو تکذیب وکړئ. د الله جل جلاله له دغو ټولو فرموداتو څخه دا ترلاسه کېږي چې په دې کائناتو کې د انسان کوم عزت او کرامت دی هغه بې سارې دی. انسان باید د الله تعالی دغې پېرزوینې او نعمتونو ته په هر حالت کې متوجه وي او په هیڅصورت کې د خپل پالونکی او مهربان ذات دغه پېرزوینې له یاده ونه باسي.

لوی الله د دومره لوی احسان او پېرزوینې په بدل کې له انسان څخه خپل اطاعت او غلامي غواړي او ورته فرمایي چې ای انسانانو! تاسې دهغه پالونکی ذات غلامي او بندگي وکړئ چې تاسې هم پیدا کړي یې او هغه خلک یې هم پیدا کړي دي چې له تاسې نه مخکې وو. تر څو ددغه غلامي او بندگي په نتیجه کې په تاسو کې تقوا او پرهیزگاري پیدا شي، له همدې ځایه معلومېږي چې الله تعالی پر انسانانو ډېر مهربان او خواخوږی دی او په هر حالت کې دا غواړي چې انسان د دنیا او آخرت په ژوند کې بریالی او سرلوړی ژوند ولري، بې غمه او بې درده وي له هر ډول کړاوونو څخه آرام او هوسا ژوند ترسره کړي، څکه خو الله تعالی پخپل کتاب قرآن کریم کې په تکرار تکرار له انسان نه د تقوی او پرهیزگارۍ د خپلولو توصیه کوي او ورته فرمایي چې له خپل خدای نه داسې ویره وکړئ څنگه چې د ویریدو حق یې دی.

موږ پخپلو غړیدلو سترگو وینو چې د الله پر ځمکه فساد، تباهي، وژنې او نورې ستونزې یوازې او یوازې په دې خاطر پیدا شوي دي چې د تقوا او پرهیزگارۍ روحیه ضعیفه شوې او ځای یې بغاوت نیولی دی. لوی الله پخپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کې په وچه او لمده کې د فساد شتون د انسانانو خپل عملونه بللي دي او ددغه لوی فساد نسبت یې انسان ته کړی دی. د خدای جل جلاله له لورې له دغه لوی فساد نه د وتلو یواځنی چاره تقوی او د الله تعالی صحیح غلامي ښودل شوی ده. د الله په کلام کې د روژې په میاشت کې د روژو نیولو ستر هدف پرهیزگاري ترلاسه کول ښودل شوي چې ددغې پرهیزگارۍ په پیدا کولو سره په ټولنه کې د امن او امان فضا حاکمه شي او انسانان د مینې، ورورولۍ او همدردۍ په خوږ نعمت کې ژوند وکړي. همدا لامل دی چې الله تعالی هر کال په کره نړۍ کې ټولو مسلمانانو ته په ټولنیزه ډول په یو ټاکلې میاشت کې د روژو نیولو حکم کړی دی چې ددغو روژو په نیولو سره د تقوا او پرهیزگارۍ ماده قوي او د بغاوت ماده یا بالکل ختمه شي او یا هم کمزورې. څکه خو دغې میاشت ته د رحمت میاشت ویل شوي دي. دا میاشت د الله تعالی له لورې په بشپړ ډول د پېرزوینې میاشت ده، په دې میاشت کې سرکش شیطانان ترل کېږي، د دوزخ دروازې بندې او د جنت دروازې خلاصېږي، نفل لمونځ کوونکي ته د فرض لمونځ هومره ثواب ورکول کېږي، د هر نیک کار اجر د لسو په برابر شمېرل کېږي، ملائکه هر شپه اواز کوي چې ای د خیر لټوونکیه نور هم مخکې شه او ای د شر لټوونکیه له خپلو دغو کارونو څخه لاس په سر شه. دا میاشت په مکمل ډول الله تعالی ته د رجوع او د خپلو ټولو کړنو د محاسبې میاشت ده، له ټولو گناهونو څخه د توبې ویستلو او په نیکو لارو د تللو میاشت ده. دا میاشت له نوی سره د پاکیدو او په ځان کې د ټول عمر لپاره د پرهیزگارۍ او د الله تعالی د واقعي غلامي احساس د پیدا کولو میاشت ده، دا میاشت په ځان کې د نیکۍ او تقوی د پیدا کولو د مشق او تمرین میاشت ده. په دې میاشت کې یواځې د خوراک، څښاک او مجامعت څخه ځان ساتل نه؛ بلکې له ټولو لویو او وړو گناهونو څخه ځان ساتل ضروري دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې که څوک د روژې په میاشت کې له گناهونو څخه ځان نه ساتي دهغه روژه هغه لپاره له لوږې تندې پرته بله هیڅ گټه نه لري. له همدې ځایه معلومېږي چې د روژې په میاشت کې له هر ډول گناهونو څخه ځان ساتل د روژې اصل مقصد دی چې په دې توگه د یوې میاشتې په اوږدو کې دهغه په وجود کې د تقوا او له الله نه د وېرې روحیه غښتلی او د بغاوت روحیه له منځه لاړ شي؛ خو ډېر افسوس چې مطلق اکثریت وگړي روژه په دې روحیه نه نیسي صرف له خوراک، څښاک او مجامعت څخه ځان ساتي؛ مگر نورو ټولو گناهو ته همغسې دوام ورکوي په داسې حال کې چې الله تعالی د چا داسې روژو ته هیڅ ضرورت نه لري. همدا لامل دی چې د روژې په میاشت کې په کوڅ کلي، دفتر، بازار او د ژوند په نورو ډگرونو کې هغه خیر ښېگڼه او پرهیزگاري نه تر سترگو کېږي چې پکار دی. نه په غیبت کې کمی راځي او نه په درواغو کې، نه په رشوت کې کمي راځي او نه په غلاگانو او ډاکو کې، نه په وژنو کې کمی راځي نه په ځورونو او نور ناوړو کارونو کې؛ بلکې دا هر څه ښه په درز کې روان وي، همدا لامل دی چې ورځ مو نه ښه کېږي چارې مو په سمه توگه پرمخ نه ځي او د نیکمختیو پرځای بدبختیانې زیاتېږي. که موږ غواړو چې روژه مو میوه ورکړي او بدحالت مو ښه شي؛ نو پر موږ ضروري ده چې روژه له خپلو ټولو حقوقو سره سم وساتو، له ټولو ناوړو کړنو څخه روژه شو او د تقوا هغه لوی هدف ترلاسه کړو چې الله تعالی موږ ته ښودلی او فرمایلی یې دي چې روژه مو په دې خاطر دربانديې فرض کړې ده چې تقوا ترلاسه کړئ.

د پښتو تاسي لوړه است ګرځوونې ښت چې ر حفلو لوهان تومی

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

واشنګټن پوسټ د هلمند پر جګړې تبصره کړې ده

نړیوالو ورځپاڼو پر هلمند د وسله والو د برید او د افغانستان د کمزوري اقتصاد په اړه مطالب خپاره کړي دي.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه په هلمند کې د وروستیو جګړو په اړه په یوه مطلب کې لیکي؛ په هلمند کې چې پخوا د طالبانو قوي مرکز و؛ نژدې یوه اونۍ جګړه روانه ده. د ورځپاڼې په وینا دا د دې ښکارندوی ده چې وسله وال د دې توان لري چې؛ د افغان امنیتي ځواکونو په وړاندې ځان منسجم کړي. د هغو ځواکونو چې وړتیاوې یې ښې شوې؛ خو بیاهم کافي تجربه نه لري.

واشنګټن پوسټ د هلمند د چارواکو په وینا لیکي؛ چې وايي، دا د طالبانو له خوا د هلمند پر شمالي برخې یوه هماهنګ شوې او تنظیم شوې حمله وه چې؛ سنګین یې اساسي هدف و.

واشنګټن پوسټ وړاندې لیکي، کله چې امریکایي ځواکونه تیر کال له هلمنده وتل، ډیرو امریکایي چارواکو اټکل کړی و چې؛ طالبان به پرهغو افغان ځواکونو د حملې هڅه وکړي چې؛ په سنګین کې پاتې کیږي.

د واشنګټن پوسټ په وینا، څلور کاله په دې ولسوالی کې د کوکنارو کر او د مخدره موادو د تولید مرکزونو د وسله والو د تمویل یوه ښه منبع وه. داسې انګیرل کیده چې طالبانو په تیرو دوو اوړو کې هم هڅه کړې وه چې؛ سنګین بیرته ونیسي.

خو د ورځپاڼې په وینا داسې ښکاري چې؛ په هلمند کې وروستی حمله به په دې ولایت کې د پرمختګ لپاره د طالبانو ترټولو اغیزمنه هڅه وي.

واشنګټن پوسټ لیکي، په ۲۰۰۹ کال کې چې د امریکا اضافي په زرګونو بلې سمندري ځواکونه د هلمند شمالي سیمې ته واستول شول؛ په جګړه کې د تلفاتو اندازه هم ورسره بې ساري حد ته لوړه شوې وه.

د ورځپاڼې په وینا، له هغه مهال راهیسې، د سیمې امنیتي وضعیت ډېر خراب شوی، خو افغان چارواکي وائ څرګندوي چې، حکومت دغه ولسوالی په واک کې لري او هغه به وساتي.

والسټریټ ژورنال ورځپاڼه په یوه مطلب کې لیکي، د افغانستان کمزوري مالي سیستم وروسته له هغې په تورلست کې د شاملیدو لپاره مهلت ترلاسه کړ؛ چې روانه اونۍ یوې نړیوالې مالي اداري وویل؛ دغه هیواد به د پیسو د سپینولو او د تروریزم د تمویل په وړاندې د مبارزې لپاره په نړیوالو نورمونو برابرد مقرراتو په جاري کولو کې د ناکامی په خاطر په تورلست کې شامل نه کړي.

د مالي اقداماتو لپاره د کاري ځواک په نوم (FATF) نړیوالې اداري چې د پیسو د سپینولو د مخنیوي لپاره مقرارت تاکي د جمعې په ورځ په یوه بیان کې وویل؛ چې افغانستان د نړیوالو نورمونو د تصویب لپاره اقدامات کړي؛ خو خبرداری یې ورکړ، چې دغه هیواد دې ته اړتیا لري چې؛ دغه اقدامات عملي کړي ترڅو د اکتوبرپه میاشت کې د دې اداري په تورلست کې شامل نشي.

ورځپاڼه د یوه لوېدیځ چارواکي له قوله لیکي؛ چې وایي، که څه هم په تورلست کې شاملیدل په اتوماتیک ډول پرافغانستان بندیزونه نه لګوي؛ خو هغه لړ شمیرنړیوال بانکونه به چې د دې هیواد له مالي سیستم سره معاملې کوي ترډیرفشارلاندې راشي؛ چې خپلې اړیکې پرې کړي.

والسټریټ ژورنال ورځپاڼه لیکي، دا تراوسه نه ده معلومه چې ایا د افغانستان حکومت د تروریزم د تمویل په وړاندې مبارزه کې مناسب قانون وضع کړی او ایا په وروستیو کې تصویب شوی د پیسو د سپینولو منع قانون به کافي په نړیوالو نورمونو برابروي او کنه؟

فعالیت های کمیسیون های ...

کمیسیون انتخابات تمام خواسته های ما را رد نموده اند و به آن جواب منفی داده است.

از اینرو تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی میگوید که پس ازین فعالیت کمیسیونهای انتخاباتی از نظر این تیم غیر قانونی است و فیصله های آنها نیز غیر قابل پذیرش خواهد بود.

بریالی ارسلایی گفت: ما از همین لحظه به بعد در مقابل جواب رد کمیسیون انتخابات افغانستان به خواسته های ما، ما تمامی فیصله های کمیسیون انتخابات و کمیسیون شکایات را رد می کنیم و از همین لحظه به بعد هیچ فیصله انها برای ما قانونیت و مشروعیت ندارد.

برگزاری دوباره انتخابات در مناطقی که میزان آرا از جمعیت این مناطق نیز بیشتر بوده و شاهد تقلب گسترده انتخاباتی بوده اند، یکی از خواستهای تیم اصلاحات و همگرایی از کمیسیون انتخابات بوده که این کمیسیون به آن پاسخ منفی داده است.

اما بگفته تیم اصلاحات و همگرایی کمیسیون انتخابات بر اساس قانون صلاحیت دارد تا در موارد خاص انتخابات را دوباره برگزار کند. تیم اصلاحات و همگرایی می افزاید که کمیسیون انتخابات نه تنها در پروسه انتخابات بیطرف نبوده بل زمینه را برای تقلب انتخاباتی به سود یک نامزد مشخص مساعد ساخته است.

تیم اصلاحات و همگرایی کمیسیون های انتخاباتی و رییس جمهور کرزی را مسئول بن بست سیاسی در افغانستان خوانده و تاکید میورزد که مسوولیت پیامدهای آن نیز به دوش رییس جمهور و کمیسیونهای انتخاباتی میباشد.

رییس جمهور حامد کرزی ...

به این مفهوم است، تا هنگام پیدا شدن یک راه حل برای بیرون رفت از این بن بست، آقای کرزی بر سر قدرت باقی خواهد ماند."

محمود کرزی برادر حامد کرزی رییس جمهور افغانستان گفته است؛ او)رییس جمهور کرزی(از همان آغاز تلاش کرد تا هیچ یک پیروز قطعی در دور نخست انتخابات نشوند تا زمان کافی برای به قدرت ماندنش وجود داشته باشد."

محمود کرزی ادامه داد: "کرزی چندین تن را تشویق کرد که در انتخابات شرکت کنند تا این گونه زمینه مهندسی انتخابات برایش پیدا شود."

ازسوی دیگر، خبرگزاری رویترز به نقل از یک مقام ارشد ارگ ریاست جمهوری افغانستان که از ذکر اسم اش خودداری کرده نوشته است: "من به کرزی گفتم که اوضاع در حال خراب شدن است و اگر مردم اعتباراش را به انتخابات از دست دهند، شاید که همه چیز از زیر کنترول بیرون شود. اما، کرزی در پاسخم گفت که تشویش نکن. همه چیز قابل مدیریت است. حالا، دو معاون ریاست جمهوری با دو نامزد گفت وگو می کنند تا اوضاع آرام تر شوند و برای انجام برخی معامله ها تفاهمی صورت گیرد."

این گفتگوها درشرایطی صورت میگیرد که حامد کرزی رییس جمهور افغانستان به تازه گی در دیدار با جیمزدابینز نماینده ویژه امریکا برای افغانستان و پاکستان گفته است بتاریخ دوم ماه اگست سال جاری میلادی قدرت سیاسی افغانستان به رییس جمهور جدید انتقال خواهد کرد.

المان د افغانستان پر ...

خاګګړی استازی میشایل کوخ، به د پنجشنبې په ورځ له اشرف غني او ډاکتر عبدالله سره ووینې. د دغه ډیپلومات د سفر په اړه لومړی (شپیګل) مجلې خبر ورکړی وو.

دغه منځګړی به د آلمان د بهرنیو چارو د وزیر فرانک والتر شټاین مایر، هغه پیغام چې د افغانانو نمې ښکښېي نغښتي دي، دواړو کاندیدانو ته ورسوي: "افغانان غواړي چې په دغه تاریخي چانس او سوله ییزه راتلونکې باندې یې بازی نه وشي."

د آلمان د بهرنیو چارو وزیر فرانک والتر شټاین مایر تر دې دمخه له یوې آلماني ورځپاڼې سره په مرکه کې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنې امیدواره کوونکې بللې وې او ویلي یې ول چې افغانان باید په هغه څه چې دوی لاس ته راوړي دي وویاړي.

«داعش» خپل مشر د ټولو ...

د ابوبکر البغدادي بشپړ نوم ابراهیم بن عواد بن ابراهیم بن علي بن محمد بدري هاشمي قریشي حسیني یاد شوی دی.

د دغې ډلې ویاند ابو محمد عدناني په هغه ویډیو کې چې د «یولو ماتیدل» نوم ورکړای شوی اعلان وکړ چې اسلامي خلافت جوړ شو او هغه پولې چې برتانیا له لومړی نړیوالې جګړې وروسته په منځني ختیځ کې کښلې وې له منځه تللې دي.

ده له ټولو مسلمانانو وغوښتل هر چیرته چې وي د مسلمانانو د خلیفه په توګه له ابوبکر البغدادي سره خپل بیعت اعلان کړي.

د داعش توندلارو جنګیالیو له دري اوونۍ په کمه موده کې د موصل او تکریت په څېر مهم ښارونه نیولي دي.

دوی وروسته له دې خپلو پرمختګونو ته دوام ورکړ او اوس د دغه هېواد د یو شمیر سرحدونو په ګډون د عراق پراخه سیمه تر خپلې ولکې لاندې لري.

د داعش ویاند د خپلو تازه څرګندونو په یوه برخه کې د «خلافت» جوړیدل د «ټولو مسلمانانو د زړه ارمان» او د «ټولو مجاهدینو هیله» بللې ده.

ده زیاته کړه چې له دې وروسته به د دوی ډله په اسنادو او مکتوبونو کې د «عراق او سوریې د اسلامي دولت» پر ځای «اسلامي دولت» کاروي.

سني مسلمانان، څلور مشران چې د اسلام له پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وروسته یې د مسلمانانو مشري کوله «خلیفه» بولي او وروسته له هغه د امویانو او عباسیانو د واکمنۍ دوه لړۍ هم «خلافت» نومول شوې وې.

په اسلامي نړۍ کې د خلافت وروستی لړۍ په نننۍ ترکیه کې «عثماني» دوره وه چې په ۱۹۲۴ کې پای ته ورسیده.

هلمند کې د مرګ ژوبلې ...

داسې لیکي: د افغانستان ملي دفاع وزارت وایي، ځواکونه یې همدا اوس د جګړې په ډګر کې تر پنځه اتیا سلنې بورې د سر تلفات د همدې مایتونونو له کبله ګالي.

له دې مخکې د افغانستان دفاع وزارت ویاند ظاهر عظیمي پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي و، چې د تیرو ۴۸ ساعتونو مودې کې د افغانستان لر او بر کې د افغان ملي پوځ ۱۰ سرتیري د مایتونو چاودنې له کبله وژل شوي دي.

د افغانستان ملي دفاع وزارت د ویاند مرستیال دولت وزیري بي بي سي ته وویل، په دا وروستیو کې د هلمند او لوګر ولایتونو ننتو کې هم ورته همدا مایتونه لوی ګواښ وو.

هغه مایتونه، چې افغانستان کې کارول کیږي، ډېر ډولونه لري او د چارواکو په وینا نژدې ټول یې له بهر نه هیواد ته راوړل کیږي.

دوی وایي، هغه مایتونه چې په هېواد کې دننه جوړیږي هم د هغو کسانو له لوري جوړیږي، چې له هېواده بهر روزل شوي دي.

دې سره دوی وایي، د دغه خطر مخنیوي لپاره یې تر پنځوس سلنې پورې وړتیا تر لاسه کړې ده.

بل لور ته نژدې اووه نړیوال او ملي بنسټونه هم په افغانستان کې د ماین پاکۍ پر چارو بوخت دي، چې شاوخوا ۱۳ زره کسان په کې کار کوي.

د اوټاوا تړون له مخې باید تر ۲۰۱۳ کاله د افغانستان ټولې سیمې له ماینونو څخه پاکې شوي وای، خو د ماین پاکولو اداري د نورو ترڅنګ نا امنۍ دې هدف ته د رسیدو په وړاندې یوه مهمه ننګونه بولي.

د ننتو دوام بیا د دې لامل کیږي، چې د جګړو په ډګر کې ناچاودلي توکي او ماینونه د ملکي خلکو لپاره د مرګ ژوبلې د تل پاتې خطر په توګه پاتې شي.

ولسي جرګې د دوو قوانینو ...

په ګډه ناسته کې بحث شوی خو اوس هم ځینې اختلافي مادې لري.

د اصولي په وینا، په ګډ کمیسیون کې د جرګې یو شمیر کمیسیونونو ټینګار کاوه، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د خارنې د نه (۹) کسیز کمیسیون مشر باید د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر وي خو ځینونورو بیا ویل چې د یاد کمیسیون غړي باید خپل رییس، مرستیال او منشي د ټاکنو له لارې وټاکي.

د جرګې یو شمیر غړو ویل چې د یاد کمیسیون مشر څکه باید وزیر وي چې د هغوی په وینا له اساسي قانون سره سم، وزیر ولسي جرګې ته ځواب ورکوونکی دی.

خو د جرګې ځینو نورو غړو بیا ویل چې د یاد کمیسیون د مشر د ټاکلو واک باید د کمیسیون غړو ته ورکړل شي څو په خپل خوښه مشر وټاکي.

تر ډېرو بحثونو وروسته په جرګه کې له حاضرو ۱۵۶غړو ۹۶ یې رایه ورکړه چې د یاد کمیسیون مشر باید د کمیسیون د غړو له خوا د ټاکنو له لارې وټاکل شي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د طرحې له مخې، یاد کمیسیون د اطلاعاتو او فرهنګ، مخابراتواو بهرنیو چارو وزارتونو، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د حقوق پوهانو ټولنې، د ملي امنیت ریاست، د مدافع وکیلانو ټولنې یو یو او د خبریالانو د صنفي اتحادیې له دوو استازو جوړ دی.

د اصولي په وینا، د حکومت له خوا جرګې ته په لېږل شوې طرح کې راغلي، په هغه صورت کې چې د افغانستان د اتباعو بشري حقوق نقض کیږي، سرچینه باید له متقاضي سره اطلاعات شریک نه کړي.

خو ولسي جرګې د رایو په اکثریت یاده فقره حذف کړه.

په جرګه کې له حاضرو ۱۵۶غړو ۱۵۳ یې دغو بدلونونو ته په پام سره یادې طرحې ته موافقه رایه ورکړه.

دغه راز د ولسي جرګې د شهیدانو او معلولینو کمیسیون له لوري د ټولنیز ملاتړ قانون طرح عمومي غونډې ته په ۳ فصلونو او ۲۲ مادو کې د تصویب په موخه وړاندې شوه.

د یاد کمیسیون مشر استاد محمداکبري وویل، چې پر یاد قانون د جرګې د کمیسیونونو په ګډه ناسته کې بحث شوی او اختلافي ماده نه لري.

د هغه د معلوماتو له مخې، د دې طرحې اساسي موخې له بې سرپرسته ښځو، معیوبینو، معلولینو، بې سرپرسته یتیمانو، سوالګرو او له بې بضاعته خلکو سره د مادي او معنوي مرستو تامینول دي.

د جرګې حاضرو ۱۵۶غړو یادې طرحې ته موافقه رایه ورکړه.

د ولسي جرګې مشر عبدالروف ابراهیمي وویل، چې یادې دواړه طرحې به ډېر ژر د تایید لپاره مشرانو جرګې ته واستول شي.

قانون هغه مصوبه ده چې ولسي جرګه یې تصویب، مشرانو جرګه یې تایید او ولسمشر یې توشیح کړي.